ليکوال: دکتور حميد راز نېټه ۲۹-۱۱-۲۰۱۰

# دغلو او داړه مارانو واکمني او دځنګل قانون

اطاعت د الو الا مر ځکه نکړم *** خليفه د زمانې په زړه کافردی
خوشال خان خټک

ګرانو هېوادوالو!

په ګران افغا نستان کې دفساد، رشوت، اختلاس، چور، بيعدالتی، ظلم او استبداد واکمني بر لاسی لري. نه پو ښتنه شته او نه هم څوک درته غوږ نيسي. هرې خواته غله او داړه ماران د قدرت پر ګدی با ندې ناست دي. ستا په وينو او غو ښو تغذيه کوي او خپلې مردارې خيټې غټوي او پړ سوي. دهېواد تش په نامه ولسمشر مشر غل دی، ورونه يې غله دي او خپلوان يې هم ورسره په غلا وو کې شريک دي. دتش په نا مه ولسمشر مر ستيالان هم غله او ډاکوان او هم دجنګي جر مو نو ناولي ريکارډونه لري. دشورا اوسنا رئيسان هم بد نامه خلک دي اووزيران، معينان، سفيران او رئيسان هم همداسې درواخله.

دلته په دې هېواد کې دپو هې او لياقت له مخې چاته هيڅکله هم کو مه لوړه څوکۍ نه ور کوله کيږي يوازې او يوازې هغه کسان پر دغو لوړو دولتي څو کيو تکيه کولای شي چې دجنګسالارانو، جهادي بد نامه رهبرانو، او دمخدره توکو دقا چاق وړونکو ورونه، زامن او ياخپلوان وي او يا هم ددوی سره په ناولو ګټو کې شريک وي. په دولتي لوړو پو ستونو کې هم چې څوک ټا کل شوي دي په رشو تونو، اختلا سو نو او ددولتي شتمنيو نه په ناوړې ګټې اخيستنې با ندې اخته دي او يوازې او يوازې خپلې پيسې او شتمنۍ ډېروي او يو له بل سره د کورونو او لو کسو مو ټرو داخيستلو په سياليو بوخت دي. دوی نه دخپل هېواد دودانولو سره مينه لري او نه هم دخپلو خلکو سره. ددوی يوازينی مينه او ايمان پيسې دي او بس. دوی نه دخدای نه وېره لري او نه هم درسول نه . ګرانو هېواد والو!

دخپل سر په ستر ګو يې ګورو چې په دې هېواد کې څه نادودې نه دي چې نه کيږي. هرې خواته بر بادي ده، ظلم دی، وحشت دی ، دبېوزلانو، غريبانو، کونډو او يتيمانو حق تر پښو لا ندې دی، رشوتخوري او حق تلفي ده، دپيسو اختلاس روان دی. په دولتي ادارو کې اشخاص او افراد دقومي، ژبنيو او سمتي او تنظيمي اړيکو پر بنسټ مقرريږي او هم سمتي او ژبنيو تعصبو نو ته لمن وهل کيږي. هيڅوک او هيڅ يوه داسې مر جع نشته چې ددې ټولو نا خوالو او بد مر غيو پو ښتنه دې وکړي، ځکه چې اوبه له پا سه خړې دي.

دهېواد مشر چې قا نون ته غاړه نږدي او تابع نه وي او په فسادونو، مرداريو او بيعدالتيو ککړ وي، نو له مادونانو به يې څه ګيله کوو، همدا علت دی چې په هېواد کې دظلم او استبداد واکمني حاکمه او بر لاسه ده . که دهېواد مشر او لاربنود پاک او سپيڅلی وي او دعوامو په اصطلاح په خپله... کې ډکی ونلري نو هر څه به ښه وي، خو خبره دلته ورانه ده چې مشر مو په ښو صفا تو او کړو وړو با ندې مو صوف نه دی . لږ زور او فشار چې پرې راشي نو ژاړي او بغارې وهي. او هلکه دخدای پار مې دروړی داسې چمو نه مه کوه! ځان دې اصلاح کړه، دخدای په لاره ځان برابر کړه اصلاحات. له خپله ځانه ،له خپلو ورونړاو کورنۍ نه پيل کړه.

که نن په رښتيا سره په تا کې تقوا او رښتينوالی او دهېواد و خلکو سره مينه پيدا شي نو دغه ناخوالې به په کراره ورکې شي او دغلو او داړه مارانو واکمني او دځنګل قانون ته به دپای ټکی کېښودل شي. پای


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ